مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر

۱۸ /۲۰۲۶/۰۳

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دویمه برخه)

## پښتانه یوه وینه او د یو پلار (پښتون) زامن (۲)

د پاکستان لپاره بله جګړه پښتنو (افغانانو) په اتیایمه لسیزه کې د جهاد په نوم ترسره کړه چې هغه مهال د پاکستان پوځي دیکتاتور جنرال ضیاءالحق په خپلو ویناوو کې په ډاګه ویل:**«جهاد افغانستان، دفاع پاکستان»**

د ۱۳۵۷ل. ل کال د غويي له کودتا وروسته هغه مهال چې لا شوروپانو پر افغانستان یرغل نه ؤ کړی، پاکستانیانو د شوروي پلوه افغان حکومت د ناامنه کولو او وروسته د پرځولو پراخې هڅې وکړې، افغان کډوال یې د جهاد په نوم وروزل، وسلهوال یې کړل او افغانستان ته یې د ورانیو په موخه واستول، جنرال ضیاء په کال ۱۹۷۹ز. کې د پاکستان د (ای‌اېس‌ای) رییس ډګر جنرال اختر عبدلرحمن ته دنده سپارلې وه چې **«افغانستان باید ورو، ورو وسوځول شي.»**[1] د جنرال ضیاء دا خبره چې افغانستان باید وسوځول شي. د چا په لاس؟ په خپله د افغانانو په لاس.

هغه وو چې د پاکستان د مداخلو له امله افغان حکومت اړ شو له شوروي اتحاد څخه پوځي مرستې وغواړي[2] سره له دې چې پر افغانستان د شوروپانو یرغل نور عوامل هم لرل خو په افغانستان کې د پاکستان مداخله یې یو بنسټیز عامل ؤ، پر افغانستان د شوروي د یرغل مسؤلیت چې څومره د حفیظ الله امین[3]، ببرک کارمل[4] او دلې په غاړه دی، له دې زیات مسؤلیت د پاکستان د هغه مهال د پوځي او دیکتاتور حکومت پر غاړه هم دی.

په افغانستان کې د پاکستان د مداخلو او د افغانانو، په ځانګړي توګه د پښتنو استعمالولو په اړه د پاکستان پوځي دیکتاتور جنرال مشرف لیکلي چې **«... موږ مجاهدین رامنځ ته کړل، هغوی مو په مدرسو کې په مذهبي غیرت [جهاد] سمبال کړل، وسلهوال مو کړل... او د شوروپانو پر وړاندې مو افغانستان ته ولېږل.**[5]

د پنځو لسیزو په اوږدو کې چې پاکستان د جهاد په نوم د افغانانو په لاس افغانستان وران او ویجاړ کړ، بلې خوا پاکستانیانو په اتیایمه لسیزه کې د غربیانو د ګټو په موخه د ډالرو په بدل کې همدغه افغانان د

---

[1]: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: ډاکتر نثار احمد صمد. ۲۹مخ
[2]: جنرال لیاخوفسکي په خپل کتاب:(د افغان میرانه او غمیزه) په ۵۳مخ کې لیکي چې نورمحمد تره کي د پاکستان د مداخلو د مخنیوي په موخه له شوروي اتحاد څخه د پوځي ځواکونو غوښتنه وکړه. همدا رنګه د نوموړي کتاب په ۱۴۰-۱۴۱مخونو کې لیکي چې امین هم د شوروي ځواکونو د رالیږلو غوښتنه وکړه.
[3]: شوروپانو فکر کاوه چې امین په امریکا کې لوړې زده کړې کړي او ځیني کړني یې د شوروپانو لپاره مشکوکې وې نو کله چې امین نور محمد تره کی وواژه، شوروپانو د امین د پرځولو او وژلو هوډ وکړ او پر افغانستان یې یرغل وکړ.
[4]: ببرک کار د شاه شجاع په څېر له شوروي ځواکونو سره یو ځای افغانستان ته راوستل شو.
[5]: پروېز مشرف: در خط آتش. فارسي ژباړن: سېد هارون یونسي. ۳۲۴مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شورویانو او شوروي پلوه افغان حکومت پر وړاندې د یوې وسلې په ډول استعمال کړل، هم یې په خپل منځ کې افغانان سره ووژل او هم یې د افغانانو پر وینو بې‌شمېره ډالر تر لاسه کړل.
خو پاکستان د دغو ډالرو ډېره لوږه بیه (چې د افغانانو په سرونو یې ګټلي وو) وروسته له څو لسیزو ورکوي، پاکستان چې د جهاد په نوم ځوک روزلي وو، هغوی د پاکستان د کفري اعمالو او له کفارو سره د مرستو له امله په پاکستان کې عملاً جهاد پیل کړ، اوس مهال چې د پاکستان امنیتي حالات پوره خراب شوي نو د پاکستان یو شمېر سیاستوالو او چارواکو د خپلو تېرو جنایتونو له امله پښېماني ښکاره کړي چې اوس دا پښېماني ګټه نه کوي، ځکه چې **(اوبه له ورخه تېر دي)** د پاکستان اوسنی دفاع وزیر **(خواجه اصف)** د روان کال د سلواغې (دلوې) میاشتې په ۲۰مه نېټه د پاکستان پارلمان، یوې غونډې ته وینا وکړه او په افغانستان کې یې د خپلو اوږدمهالو ورانکاریو او لاسوهنو پرده پورته کړه، د جنرال ضیاء او جنرال مشرف ځرګندوني یې تایید کړې خو په افغانستان کې یې د شورویانو پر وړاندې د جهاد په اړه وویل چې هغه جګړه جهاد نه ؤ، خواجه اصف پاکستان، په ځانګړې توګه، پاکستانی پوځ د غربیانو یو مزدور پوځ وباله ویې ویل:**«پاکستان لس‌ګونه کلونه د لویدیځوالو د ګټو لپاره په افغانستان کې د یوې وسیلې په توګه کړنې تر سره کړي** چې دا یوه تاریخي تېروتنه وه.
**د شوروي اتحاد شتون په افغانستان کې اشغال نه ؤ.** د افغانستان د وخت حکومت شوروي اتحاد ته بلنه ورکړې وه. **د افغانستان د اشغال روایت، یو امریکایی روایت ؤ.»**[6]
خواجه اصف په ډاګه کړه چې **«پاکستان د افغانستان په جګړو کې د اسلام لپاره نه،** بلکې د خپلو سیاسي ګټو او د سترو ځواکونو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره مداخله کړې وه.»[7]
نوموړي وویل چې **«پاکستان د افغانستان په دواړه جګړو کې هېڅکله هم د دیني خواخوږۍ او له اسلام څخه د دفاع په موخه برخه نه ده اخیستې... .**[8]

همدا رنګه خواجه اصف په افغانستان کې د درو لسیزو جګړو په اړه د (اسکای نیوز) سره په مرکه کې د دې پوښتنې چې«آیا پاکستان د ترهګرو ډلو د ملاتړ، روزنې او تمویل په برخه کې اوږده مخینه لري؟ وویل چې **«موږ درې لسیزې کېږي چې دا ناپاک (کثیف) کار، د امریکا د متحده ایالاتو او لویدیځ لپاره چې انګلستان هم په کې دی، ترسره کوو.** دا یوه تېروتنه وه چې موږ وکړه او همدا لامل دی چې اوس دا مسایل موږ ته منسوب کېږي.»[9]

لکه چې وړاندې چې یادونه وشوه پاکستانیانو، که وایو: پنجابیانو که له یوې خوا افغانان د خپلو افغانانو پر وړاندې د وسلې په توګه وکارول له بلې خوا یې د افغان ولس د وینو په بدل کې له بهرنیانو څخه په میلیاردونو ډالر، وسلې او مهمات تر لاسه کړل تر دې چې پاکستان د دغه **(جهاد افغاستان)** له برکته د اتومي وسلې څښتن هم شو او د جنرال ضیاء همدا شعار په عمل کې پلی شو.

حیرانوونکې خو دا ده چې د پاکستان د اتومي پروګرام (اتومي وسلو) جوړونکی هم د هند یو، **یوسفزی پښتون (ډاکټر عبدالقدیر خان)** ؤ او د پاکستان د اتومي انرژۍ کمیسیون مشر هم یو پښتون **(ډاکټر منیر احمد خان)** ؤ.

---

6: https://www.instagram.com/reel/DUIJUvwiB8s/
7: هماغه سرچینه.
8: هماغه سرچینه.
9: https://www.howd.org/likene/3589-si-saal-kaar-e-kassief-pakistan.html


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډاکټر عبدالقدير خان د پاکستان له لومړی اټومي ازموينې وروسته د پاکستان **د ملي اتل** په ستاينوم ونومول شو او وروسته د **(پاکستان د اسلامي بم پلار)** وبلل شو.[10]

پاکستان چې تل يې د خپلو ناپاکو او شومو موخو لپاره د اسلام له سپيڅلي نوم څخه ګټه پورته کړې، په خپل اټومي بم يې **(اسلامي‌بم)** نوم کېښود چې دا ډېره ناوړه او د اسلام د سپيڅلي دين خلاف عمل دی. پوهيږو چې د اټومي وسلو په کارولو سره هر ډول ساکښن له منځه ځي، له دې امله ده چې په اسلامي جګړو کې د اټومبم کارول جواز نه لري، په اسلامي جګړو کې د ښځو، ماشومانو او بې وسلې انسانانو او ژوو وژل حرام او منع دي. د بې ګناه انسانانو او ژونديو موجوداتو وژل يوازې د اسراييلو او اسراييلپلوه هيوادونو کار دی. چې پاکستان په نيت او ظلم کې له اسراييلو کم نه دی خو چې له لاسه يې وشي.

د پاکسان پوځي ديکتاتور جنرال مشرف او د ده په څېر نور پنجابيان چې د عادت له مخې له ټولو پښتنو سره کينه او دښمني پالي، د پاکستان **دغه د اسلامي بم پلار او ملي اتل ډاکټر عبدالقدير خان** ته (وروسته له هغې چې د پاکستان لپاره يې اټومي پروګرام تکميل کړ) د امريکايانو د غوړمالی او خوشالۍ لپاره، هغه پر خيانت تورن کړ، مشرف چې يو سپک او د سپکې او بې‌باکې ژبې لرونکی کس ؤ[11]، عبدالقدير خان يې د خپلو خاطرو په کتاب کې، په ناوړه کړنو ياد او د هغه شخصيت يې توهين کړی دی. او هغه يې د ۲۰۰۱ز. کال په مارچ کې له دندې ګوښه[12] او بيا يې په ۲۰۰۴ز. کال کې په خپل کور کې بندي کړ[13] چې ګواکې هغه له پاکستان سره خيانت کړی او د اټومي وسلو توکي او اسناد يې پر شمالي کوريا، ايران او ليبيا هيوادنو باندې پلورلي دي.

د پاکستان پوځي چارواکو د دې لپاره چې اصلي خيانت کوونکي پټ وساتي، پر ډاکټر قدير خان يې فشار راوړ او دې ته اړ کړای شو چې لګول شوي تورونه ومني، **عبدالقدير خان وويل چې د پاکستان د لوړپوړو چارواکو د فشار له امله يې د اټومي خپريدو مسؤليت پر غاړه واخيست.**

ډاکټر عبدالقدير خان، پاکستان ته د خپلو لويو خدمتونو په کولو سره، سره له **«خدمت کرده گناه لازم»** حالت سره مخ شو، شوني ده چې ډاکټر عبدالقدير خان د پاکستان لپاره په خپل خدمت پښېمان شوی وي، د هغه يوه مشهوره وينا ده چې د يوې پوښتنې په ځواب کې يې ويلي وو چې **«له پاکستان سره چې څومره وفا کوئ، هغومره به غدار بلل کيږئ خو چې څومره غداري کوئ، دومره به لويه لويي ورکول کيږي.»**

پاکستان ته د ډاکټر عبدالقدير خان خدمتونه او په بدل کې مجازات، د نورو پښتنو لپاره يو ښه بېلګه ده، هر پښتون چې د پاکستان لپاره خدمت کوي د عبدالقدير خان له برخليک سره به مخ کيږي.

---

[10]: پروېز مشرف: در خط آتش. فارسي ژباړن: سېد هارون يونسي. ۴۴۹مخ
[11]: جنرال مشرف دومر بې‌باکه او سپک سړی ؤ چې د خپل مور او پلار ګداګانې او د ښې نڅا له امله د ډالی (جايزې) يادونه يې کړې ده. د مشرف د خاطرو په کتاب (در خط آتش) کې د هغه د مور نڅا او هارمونيې غږول په ۲۵مخ کې؛ د مشرف له سپيو سره مينه د کتاب په ۳۲مخ کې؛ د مشرف اخلاقي فساد، له جلګيو سره اړيکې، په ۴۱-۴۲- ۶۱مخونو کې؛ ډېسکوټيک ته ورتلل او د ده نڅا، په ۷۲مخ او نورې حېرانوونکي پېښې د نوموړي جنرال په کتاب کې ولولئ.
[12]: پروېز مشرف: در خط آتش. فارسي ژباړه:سېد هارون يونسي. ۴۵۴مخ
[13]: هماغه سر چينه. ۴۶۲مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ




نېټه:۱۴۰۴/۱۲/۲۶ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دی لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ